// افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|

دعبدالحّی حبیبی په اهتمام

ژباړونکی: درویش وردګ

۲۲ جنوری ۲۰۱۸

# السَّوادُ الاعظم- ۶

## پښتوترجمه

## تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی

## د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی

### پنځمه مسئله

داده: چې دهرکوچنی او لوی دجنازی لمونځ وکړی. اګرکه هغه کس بد وی، ځکه چې اهل قبله دی. ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی: دهرواړه اولوی په جنازه لمونځ وکړی.

اودرسول علیه السلام ځلورزامن و، ځلورواړه په کوچنوالی کی وفات شوی. اورسول صلی الله علیه وسلم ددوی دجنازی لمونځ کړی. پدی مسئله کی هیڅ اختلاف نشته اوصحابه اوتابعینو په وړو پسی دجنازی لمونځ کړی. او هرڅوک چې دکوچنیانو دجنازی لمونځ ونکړی هغه مبتدع او هواداره دی. دغه اندازه بس ده هوښیارلره.

### شپږمه مسئله

داده : چې دنیکی اوبدی تقدیر ټول له خدای عزّوجلّ څخه ووینی. ځکه چې په خبر کی راغلی: چې یوه ورځ جبرئیل علیه السلام درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل: چې مالایمان؟ ایمان څه دی؟ ترهغه ځایه چې القدر خیره وشره من الله تعالی.ا ورسول علیه السلام وویل: چې دنیکو اوبدو تقدیر دخدای عزّوجلّ له لوری دی. او هیڅ شی دخدای عزّوجلّ له تقدیره پرته ندی. اوبنده ته له قضاء څخه چاره نشته اوله قضاء څخه ندی بیل.

او هرڅوک چې مومن په خطاء سره ووژنی نو دیت وربandی واجب کیږی اوکفارت. اوکه په عمد یی په آلت سره ووژنی نو قصاص وربandی واجب کیږی. اودمومن چې وژل نه وی واجب شوی، اوهرڅوک چې هغه حلال وګڼی کافرکیږی اوپه دوزخ کی جاویدان پاتیږی. ولی که یی حلال ونه ګڼی اوتوبه وباسی اوبښنه وغواړی، امید شته چې خدای تعالی دهغی توبه ومنی او هغه وبښی اودا دخدای عزّوجلّ په مشیت(خوښه) کی دی که وغواړی په خپل فضل سره هغه وبښی. اویایی په خپل عدل سره عذاب کړی. اوآخر یی جنت ته بوزی اوتل(جاویدانه) په دوزخ کی نه وی.

اوهرڅوک چی ووایی : چی که هرڅوک یو مومن مړ کړی کافر کیږی اوتل په دوزخ کی پاتیږی، هغه مبتدع دی اوهواداره. دغه مقداربس دی هوښیارلره.

**اوومه مسئله**

داده: چی په هر امیر پسی که جابر وی یاعادل لمونځ روا دی. ځکه چی دسلطان اطاعت لرل فریضه ده، اودهغی ترک کول گناهکاری ده اومعصیت دی اوبدعت.

اوهرڅوک چی دسلطان اطاعت ونلری هغه هواداره دی. ځکه چی حق تعالی په خپل کتاب کی فرمایلی: یَااَیُّهَاالَّذِینَ آمَنُوا اَطِیعوُ اللهَ وَاَطِیعوُا الرَّسوُلَ وَاُولِی الْاَمرِ مِنْکُم . ای مومنانو! دخدای عزّوجلّ اطاعت وکړی اودرسول اطاعت وکړی! اودامیرانو اطاعت وکړی.

رسول الله علیه الصلوة والسلام فرمایلی: چی امیرانو ته بده دعا بدعت دی. او وویل: ای ربه! امیران نیک وگرځوی! اوجاهلان په دوی مه مسلط کوه.

اورسول علیه السلام ویلی: که چیری امیران اوفقیهان نه وای، نو ممکنه نه وه چی خدای عزّوجلّ په اخلاص سره پرستش وکړی.

اوخواجه حسن بصری رحمة الله علیه وویل: که ماته څوک ووایی چی یوه دعا دی مستجابه کیږی، نومابه هغه دعا دسلطان په هکله کړی وای. ځکه که هغه دعا دځان لپاره وکړم نویوکس ته می دعا کړی. اوکه یی پلار اومورته وکړم دوه تنوته به می دعاکړی وی. اوکه یی سلطان ته وکړم نو ټولو خلکو ته می دعا کړی. ځکه چی دسلطان په صلاح کی دمومنانو صلاح ده اوپه فساد کی یی دمومنانو فساد دی.

اوباید درافضیانو په خبر نه اوسو چی دسلطان په وړاندی توره راباسی. اوپه هیڅ وجه باید په سلطان عاصی نه شو. که عدل وکړی نو مزد اوثواب به یی واخلی اوکه ظلم وکړی نو بزه اوعذاب به وگوری.

په هرصورت باید دسلطان اطاعت وشی. اوهرڅوک چی دسلطان اطاعت ونلری هغه دخوارجو له ډلی دی. دغه اندازه بس ده هوښیار لره.

**آتمه مسئله**

داده : چی پرموزه مسح په سفر اوحضر کی له حدثه ترحدثه روا ده. په حضر کی یو شاوروز اوپه سفر کی دری شاوروزه.چی رسول الله علیه الصلوة والسلام وویلی: یَمسَحُ المقیمُ کمال یومٍ والمسافرُ ثلثة اَیامٍ ولیالِیها. وویل: مقیم دی مسح وکړی په موزو ، تمامی یو شبانروز، اومسافردی مسح وکړی دری شبانروزه. اوکه څوک دمعصیت سفروکړی، لکه غلاکول اولاره نیول اودخلکو کالی اخیستل اویا خلک وژل داټول یو شان دی اوباید چی لمونځ دوه رکعته وکړی اوپه لوڅوپښو مسح نشی کیدای.

اوهرڅوک چی په موزه باندی مسح روا نه بولی، اوپه لوڅوپښو یی روا بولی هغه رافضی دی اوهواداره اوشیعه دی. اودنارینه اوښځینه مسح کول یوشان دی. اوپه کالیو اومقنعه اوعمامه باندی مسح روانده. اوپه جرابو اگر که سختی اوبدل شوی هم وی. او بویوسف اومحمد رحمّه الله علیهما وویل: که سختی اوبدل شوی وی دسفر لپاره روادی. همدامقدار بس دی هوښیار لره.

## نهمه مسئله

داده: چی ایمان دخدای عزّوجلّ عطا(ورکړه) وبولی. ځکه چی فعل له بنده څخه دی اوتوفیق له خدای پاکه. همداسی چی پیژندنه دبنده فعل دی اوپه پیژندلوتوانا کول دخدای عزّوجلّ صنع ده اواقرار دبنده فعل دی اوداقرار توفیق دخدای عزّوجلّ صنع ده.

اوکه څوکووایی: له ماڅخه هیڅ فعل نشته. هرڅه چی دی هغه دخدای فعل دی، هغه جبری دی.

پس په ریښتیا سره پوه شه: چی ایمان دخدای عطا ده، هغه ته چی وغواړی ورکوی یی.یوه ته یی په خپل فضل ورکوی اوله بله یی دخپل عدل له مخی اخلی. اوپوه شه چی که فضل وکړی شکر واجب کیږی اوکه عدل وکړی جهد واجب کیږی. قوله تعالی: وَاَنِیبوُا اِلی رَبِّکُم وَاَسلِمُوا لهُ. داسی روانده چی وویل شی: چی که هدی رانکړی ایمان نه راوړم. ځکه چی دا دجبریه مذهب دی. اوهم روا نده چی ووایی چی: ایمان نه راوړل له ماڅخه دی چی دا دقدریه مذهب دی.

پس پوه شه چی ټول فضایل دده دی. قُل بِفَضلِ اللهِ وَبِرَحمَتِهِ. اوبل ځای وایی: اللهُ یَجتَبی. اوبل ځای وایی: ذالِکَ فَضلُ اللهِ یُوتِیهِ مَنِ یَّشاءُ. اوبل ځای وایی: وَلَو شِئنَا لَآتَینَا کُل نفسٍ هُداهَا. اوبل ځای وایی: یُضِلُ الله مَنِ یَّشأءُ . اوبل ځای وایی: مَن یُضلِلِ اللهُ فَمَا لَهُ مِن هَادٍ. اوبل ځای وایی: وَمَن یُضلِلِ اللهُ فِمَالَهُ مِن وَلِیٍّ مِن بَعدِهِ. اوکه ټول آیتونه ذکر شی نو خبره به اوږده شی.

پوه شه چی: ایمان نامخلوق دی، ځکه چی ایمان بنفسه دخدای عطا ده. اوایمان راوړل دبنده فعل دی. څرنګه چی قرآن پخپل ذات سره نامخلوق دی. اودبنده ویل مخلوق دی. اوهرڅوک چی غیر له دی څخه ووایی هغه مبتدع دی اوهواداره. همدومره بس دی هوښیار لره.

## لسمه مسئله

داده: چی بنده دخپلو ټولو افعالو سره مخلوق دی. اوخدای تعالی له ټولو صفاتو سره خالق دی.

ځکه چی دبنده فعل تل نه و. نوهرڅه چی بنده وکړی لکه لمونځ روژه اوحج اودی ته ورته هغه مخلوق دی. ځکه چی حق تعالی ویلی: اللهُ خالِقُ کُلِّ شَیئٍ. دهرڅه پیداکوونکی عزّوجلّ خدای دی. اوبل ځای یی وویل: وَاللهُ خَلَقَکُم وَمَا تَعمَلُونَ.

پس هرڅوک چی دبندګانو اعمال نامخلوق وګڼی هغه معتزلی دی. همدومره بس دی هوښیار لره.